دکتور حسام مل

# ربـــاعی

زه‌به څه کړم دا نوروزچی می واک نه وی د خپل
د پردیو تر ولکی هیڅ می ځواک نه وی د خپل
لاس تړلی پخپل کور کی د پردېو اسیر
عیش او نوش ددی وطن د پردو وي نه می خپل

# ځنځېری لیونی

خیالونـه می یاغی شوله فرمانه ځخه لاړ
هوس می طوفانی شود جانانه سره لاړ
دذهن په هنداره کی چی ماته په خندا شو
قفـس‌نـه زړه می ووت تور چشمانو سره لاړ
لـه عقلـه پردی کړم ګریوان څیری پـه صحراشـم
ځوانی  می بهار ونـه لید خزانه سره لاړ
بیلتون دهغی مانه ځنځیری لیوني جوړ کړ
اری رانغی می خواته رقیبانو سره لاړ
مل بس دی نور دخیال پـه تالونـه مه زنګیږه
خوانی دی دخیالونودکاروانه سره لاړ

www.ayenda.org